۷۰۲

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

ملي اصلاح

سياسي، ټولنيزه او فرهنگي اوونيزه

۴۵مه گڼه، د ۱۳۹۶ لمريز کال د دلوې ۲۸مه د ۱۴۳۹ هـ ق د جمادي الاخر لومړۍ، د ۲۰۱۸م د فبروري ۱۷مه نېټه

سامری‌ها و گوساله‌های عصر مدرن

فقر او بې کاري

او د افغانانو اقتصادي کړوالي

امت اسلامی از مشکلات فراوانی رنج می برد و عوامل زیادی دست به دست هم داده و درد و رنج امت را افرایش داده است. از میان همه عوامل نگون بختی امت اسلامی، دو عامل مخرب و تأثیرگزارتر همانا عالم بی عمل و جاهل متمسک و دیندارنماست.

وقتی عالمی مردم را به تواضع و فروتنی فراخوانده و خودش متکبر و خودخواه باشد، یا دیگران را به بذل و بخشش دعوت نموده و خودش بخیل و ممسک باشد، یا این که از اخلاق نیکو سخن بگوید و خودش پایبند ارزش های اخلاقی نباشد، کسی دعوتش را لبیک نمی گوید و علاوه بر آن او را حقیر و خوار و ذلیل می شمارند.

از طرف دیگر عالم و پیشوای مردم باید الگو و اسوه ی نیک برای دیگران باشد و خودش نمادی باشد از گفته و توصیه ها و نصیحت هایش؛ چون سخنان و گفته ها آن قدر تأثیرگزار نیست که اعمال و حالات تأثیرگزار می باشد؛ لذا چون دیگران اعمال علما و پیشوایان و دعوتگران را می بینند و اعمال شان را معیار حق و باطل قرار می دهند؛ وقتی کارکرد پیشوایان بر خلاف گفته های شان باشد، مسلم است که کسی به گفته های شان وقعی نگذاشته، هم دین گریزی بیشتر می شود و هم نفرت از علما و مقتدایان دینی!

بر عکس قضیه نیز خطرساز است یعنی آن گاه که جاهلان و نادانان به کرسی علما تکیه زنند و بین مردم به حیث متصدیان دینی معرفی گردند و حق و باطل را به هم در آمیخته و زهر و عسل را بخورد مردم بدهند و آموزه های اسلامی را به صورت نارسا و اشتباه و وارونه به دیگران به نمایش بگذارند و دین را به گونه نشان دهند که جبریل و مصطفی را به حیرت اندازند و چیز های به نام دینداری در جامعه شایعه گردد که نه تنها ربطی به دین نداشته، بلکه بر خلاف آموزه های اصیل اسلامی باشند.

علامه ابوحامد غزالی رحمه الله درین زمینه نکته ظریفی دارد و می گوید: کمرم را شکستاندند، عالمان بی عمل و نادانان عمگرا؛ عالم با عمل نکردن به گفته هایش دیگران را به انحراف کشانده و از دین دور می سازد و نادان با اعمال نادرست و خلاف خویش دینداری را به گونه وارونه جلوه داده و حق و باطل به هم می آمیزد.

لذا بایسته است که علما به آموخته های خویش عمل نموده و خود نمادی از دستورات اسلام عزیز باشند تا دیگران با تأسی از ایشان پایبند دستورات انسان ساز اسلام گردند. هم چنان علما وظیفه دارند که نادانان را آموزش داده و آنان را به اسلام حقیقی آشنا و ملتزم سازند که در نتیجه امت اسلامی از کج فهمی ها و انحرافات نجات یابند و در مسیر واقعی رشد و تعالی فکری و اخلاقی و عملی قرار گیرند.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته خېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی بنار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سورې مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام بنار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۵۲۶۳۷۷۳ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا: دگردیزبنار، مرکزی چوک ، دنې نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور شاته، خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: قلعه ارباب - جنوب چهارراهی مولوی - مرکز علمی فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: شهر زرنج، کوچه‌ی افغانستان بانک، جنب ریاست زراعت، دفتر جمعیت اصلاح: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
محمدقاسم محمدی
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

سرمقاله

د افغانانو غوښتنه سوله!

په جګړه کې د نورو ګټه ده

په هغه راپور کې چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر (یوناما) او ددغې اداري د بشري حقوقو د دفتر له خوا په ګډه خپور شوی راغلی دی چې په تېر زېږدیز (۲۰۱۷) کال کې په افغانستان کې تر لسو زرو زیاتو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده
دغه را پور تېره اونۍ د سلواغي په ۲۶مه نېټه خپور شو چې په‌کې راغلي چې د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په اوږدو کې د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې د امنیتي پېښو پر مهال ۱۰۴۵۳ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. چې له دې ډلې ۷۰۱۵ تنه ټپیان او پاتې نور یې وژل شوي دي.
که څه هم په راپور کې د هغو فردي پېښو ذکر نه تر سترګو کېږي چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د مرګ ژوبلې سبب شوي دي او اکثره غټې پېښې پکې ذکر شوي دي.
د خواشینۍ ځای دا دی چې د ملکي خلکو تر څنګ د نظامي او وسله‌والو کسانو د مرګ ژوبلې کچه څو چنده لوړه ده چې په ټوله کې هغوی هم د همدې خاورې بچیان او افغانان دی او زیان یې همدې وطن او خلکو ته رسېږي او پر غم یې د همدې هېواد مینډې او خویندې ویرجنې کېږي.
په داسې حال کې چې په وروستیو کلونو کې په هېواد کې که له یو لوري د جګړې لمنه پراخه شوې‌ده، بل پلو په ښارونو کې د چاودنو او ډله‌ییزو بریدونو کچه هم لوړه شوې‌ده چې د اکثره پېښو قربانیان عام وګړي او غریب افغانان وي او په دې ټوله لوبه کې زیان یوازې افغانانو لیدلی او نورې ټولې خواوې –که هغه امریکایان دی او ګاونډي او نور هېوادونه- د ګټې په حالت کې دي او د خپلو لنډمهاله او اوږدمهاله ستراتېژیو د تطبیق لپاره لاس په کار دي او زمونږ هېواد یې د خپلو جګړو ډګر ګرځولی دی.
ملي وحدت حکومت چې د جوړښت پر لومړۍ ورځ یې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ او د بې‌شمېره وعدو تر څنګ یې د امریکا له لوري د امنیت راوستلو وعده هم کړې‌وه، لکه د خپلو نورو وعدو په څېر په دې برخه کې هم د افغانانو په وینو سترګې پټې کړي دي او ځینې کړۍ خو یوازې د جګړې د اوږدولو لپاره کار کوي او د افغانانو د وینې په بیه خپلې ګټې تر لاسه کوي او د هر هغه حرکت او یون مخالفت کوي، چې د سولې لپاره تر سره کېږي.
دا چې زمکه هغه سوزې چې اور پرې بلېږي، نو د هغو افغانانو -چې په تېرو کلونو کې خپل نږدې کسان په دې پردۍ جګړه کې له لاسه ورکړي دي- دا درد د پردیو په زور راغلي او په پردیو ډالرو مست هیڅ‌کله هم نه‌شي احساسولی او نه هم غواړي چې د دې جګړې اصلي رښې چې په غرب او امریکایانو پورې تړلي دي، له مینځه لاړې شي.
دا درد او غم د همدې افغانانو او د همدې ولس دی او درمل یې هم باید دوی خپله ولټوي. نو راځئ چې یوځل بیا د سولې لپاره آواز اوچت کړو او د جګړې له ټولو خواوو وغواړو چې نور د الله لپاره او د دې مظلوم ولس په‌خاطر د جګړې پرځای د سولې آواز اوچت کړئ. ترڅو به د پردیو د ګټو په دې ناتمام جګړه کې خپل بچي له لاسه ورکوو او ترڅو په مو ګاونډیان او غربیان په خپلو کې سره جنګوي.
مونږ یو ځل بیا هم وایو چې جګړه د روان حالت د حل لاره یه هیڅ صورت کې نه ده او نه هم دا جګړه د افغانستان له ورانۍ او د افغانانو له وژل کېدو پرته بل څه ترلاسه کوي، او که دا جګړه څومره هم اوږده شي په پایله کې ټولې خواوې د سولې خبرو ته مجبوره کېږي، نو راځئ چې تر نور انتظار ونه کړو او نه هم د نورو افغانانو وینې تویېدو ته پرېږدو او دهغې سولې لپاره نن لاس په کار شو چې سبا به په نیم وجود هغې ته مجبوره یو.

افغان شوروي جګړه لاسپوڅي او اتلان!

ډاکټر وحیدالله مصلح

د شوروي پر ضد جګړه کې یو لوی ملت د خپل شرف او ازادۍ لپاه وجنګېد، شورویان له نظریاتي تیري نیولې تر نظامي اشغاله زمونږ د ملت له روان او ځان سره وجنګېدل، دوی زمونږ عقیده پر مارکسېزم او وجود پر نیپال وویشته، خو د دې ملت روان په هر ټکر کې پیاوړی او وجود مو په هر نپیالم، سکاډ او اورا ورښت کې خور شو او ډېر شو.

د دلوې په شپږویشتمه د شوروي ځواکونو وروستی قومندان بوریس گروموف د دوستۍ پر پله اووښته او خپلو مشرانو ته یې کنځلې کولې، دا داسې جګړه وه چې په افغانستان کې د شوروي ځواکونو ستر جنرال الکساندر مایاروف یې په اړه وایي چې: د افغانستان جګړه د شوروي اتحاد له خوا تر سره شوې وروستۍ جګړه ده، دا له هغو وروستیو ځان وژونکو ماینونو څخه یوه راوختله چې یو لوی دولت پرې والوت او درې وړې شو.

شوروي لاسپوڅي!

شوروي تیری باید د قوم او ګوند په خپلویو کې و نه تړل شي، خلق ګوند په ۱۳۵۷ هـ ش کې کودتا وکړه، دوی له همغه پیله په مارکسېزم-لېنېزم کې نوې حکومتولي رامنځته کړه، له تره کي تر امینه او له کارمله تر نجیبه د ټولو سیاستونه د کرملین د ستراتیژیکو بحثونو لپاره کاري پلانونه وو.

شوروي ځواکونه د خلق ګوند او په ځانګړې ډول د پرچم ځانګې په کوربه توب دلته رانغوتل، ببرک کارمل د پرچم ډلې مشر او ډاکټر نجیب الله هم د دې ډلې مشرتابه کې وو، دوی ټولو په ګډه شوروي ځواکونه راغوښتي وو.

کله چې له ببرک کارمله واک ډاکټر نجیب الله ته لېږدېده، دا کومه داخلي او طبیعي پېښه نه وه، بلکه د گورباچف د سیاسي ریفورمونو؛ (پرانېستې سیاسي ټولنه"گلاسنوست" او اقتصادي بیا جوړونه "پروسترویکا")غوښتنه دا وه چې نور د افغانستان د بایللې جګړې بار نه شي وړای او باید د افغانستان جګړه پای ته ورسېږي، دې لپاره په افغانستان کې نوي مشرتابه او نوي سیاست ته اړتیا وه، کارمل ته لارښوونه وشوه چې واک په ارامه نجیب ته پرېږدي، هغه چې لږه سرپېچي پیل کړه له کرملینه یې ورپسې د کې جي بي ډګروالان راولېږل، د کې جي بیانو څو غوسو واک په ډېره نرمۍ نجیب ته ولېږداوه، او بیا نجیب د کرملین د سیاستونو لپاره دلته متناسب فعالیتونه وټاکل. هغه چې نجیب په کې د شورویانو له ویستل کېدونکو عسکرو سره خداي پامانۍ کولې او ګلان یې په غاړه ورزنګول، دا د ګورباچف له سیاستونو سره همغږي وه، که نه د نجیب شوروي سلاکار ستر جنرال محمد احمد ویچ ګاریېف خو دا هم وایي چې نجیب د شوروي ځواکونو پاتې کولو لپاره بهانې لټولې.

د ازادۍ جګړه او نړیوالې مرستې!

افغان ملت له شوروي سره په خپلو شرایطو او امکاناتو جګړه پیل کړه، دې جګړې نړیوال ملاتړ څکه تر لاسه کړ چې د کمونېزم شر محلي نه وو، دا چې شوروي تېری او کمونېزم نړیوال تهدید وو، ډېر زر افغاني مقاومت نړیوالې ننګه او حمایه پیدا کړه، توپیر یوازې دومره وو چې نړۍ له شوروي سره زمونږ په وطن کې خپل حسابونه پاکول او مونږ خپله خاوره له شورویانو پاکوله.

هغه مهال امریکا غوښتل چې دلته شوروي باید مات شي، زمونږ ملت د خپل دیني رسالت او ملي احساس له مخې د ازادۍ جګړه کوله، عربي نړۍ چې په شوروي او امریکایي دواړو فکټونو کې ویشل شوې وه، یو شمېر حکومتونو یې د امریکا په صف کې د

تعهد له امله مونږ سره مرستې کولې او یو شمېرو یې د شوروي په کتار کې حتی په ملګرو ملتونو کې د شوروي اشغال په حمایه کې رایې ورکولې... والله چې که امریکا سعودي ته ویلي وای چې د حاجیانو د حج د قربانۍ غوښې او خورما نور د مهاجرو کمپونو ته ونه لېږئ، تاسو باور وکړئ چې هغوی به نه وای رالېږلې، دا نظامونه اوس نښه پېژندلي شوي.

زمونږ په جهاد کې د نورې نړۍ مرسته د نړیوالو سیاستونو په تناظر کې باید تحلیل شي. راځئ له ځانونو وپوښتو چې هغه مرستې نن ولې نه شته؟ که پرون شوروي وو، ولې نن دلته بهرني ځواکونه نه شته؟ واقعیت دا دی چې د نړیوالو سیاستونو په تغیر کې له مونږ سره د خپلو او پردو برخورد او مرسته تغیر شوه، له امریکایانو مخکې او وروسته نورې نه مرستې وې او نه سم برخورد... مونږ اړ نه یو چې خپل جهاد تل د نورو د مرستو مرهون وګڼو او د شلمې پېړۍ دا ستره ګټه او دا لوی ویاړ د نورو شان وګڼو، دا مونږ وو چې جهاد مو پیل کړی وو او دا مونږ وو چې ځان او نړۍ مو د کمونېزم له حصار او دوزخ نه وویستله، مونږ د جګړې ګټونکي خو د نظام سازۍ ناکام ملت یو.

آزادي غوښتونکي تنظیمونه!

هغه مهال چې د اسلامي نهضت پر لیکه ویشل شویو تنظیمونو په کوزه پښتونخوا کې جهادي لیکې تنظیمولې، نورو په کې منفعل سیاستونه لرل، پر محمد ظاهر شاه کودتا وشوه، دوی په کې بې پرې او ساړه وو، پر داودخان کودتا وشوه او دوی په کې همداسې ګنګس روان وو، او کله چې د کمونېزم او اشغال پر ضد جنګ کېده نو بیا دا میدان په داسې مړسپنو نه ګټل

که آبل پرون د انګلیس پر ضد افغان جګړو خپل اتلان درلودل، نو پرون هم د شوروي پر ضد افغان جګړې خپل اتلان درلودل، که څوک له دې منکر وي، هغوی به یا له مسایلو سره عقده یي برخورد لري او یا به د نجیب د حکومت تر سقوط وروسته مرحلو کې د جهاد بسته تاریخ تحریفوي. دا کومه وړه پېښه نه وه چې ملت دې یې د مشرتابه او نظم په تشه کې تر سره کړي، دا یوه لویه جګړه وه چې ملت په انارشېزم نه ده ګټلې.

کېده، د جنګ ډګر او د ازادۍ جګړه انقلابیت او حماسیتوب غواړي، او دا د هغه مهال په جهادي تنظیمونو کې راټول وو.

په دې کې هم شک نه شته چې پاکستان نه غوښتل چې د شوروي پر ضد افغان جګړه کې دې ملي ګرایان محوري جریان وي، خو له دې سره سره هغه مهال د مرحوم پیر سید احمد ګیلاني او حضرت صبغت الله مجددي ګوندونه د ملي ګرایانو د لیکې تنظیمونه وو چې تر ډېره یې د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه ارمانونه پالل، هلته په پښور کې د شمس الهدا شمس افغان ملت هم وو او د شوروي اشغال پر ضد شعله یان هم فعال وو، ستم ملي به هم په کې پټ فعال وو، شعله یانو خو هلته پیو خوا ته لوی او منظم کمپ هم درلود، له پېښوره به یې جهادي قومندانان او خپل حریفان تښتول او هملته به بیا ورکېدل، په دوی کې یو هم د شهید زاهد ابراهیمي اوښی ضابط عبدالحق وو چې په اختر کې یې د چایو په بهانه کورته یووړ او بیا یې مړی ژوندی ورک شو.

د آزادۍ اتلان!

افغان ملت له شوروي سره په روح او ځان جګړه وکړه، کله چې د اشغال پر ضد د ملت درېمه برخه کډوالېده، کله چې د ملت اکثریت داخل کې بېځایه کېده او له هغه ځایونو یې بېرته خپل وطن ګاټه، نو ریښتیا دا دي چې د دې جګړې اتل مېړنی افغان ملت دی، په دې جګړه کې پښتون، تاجېک، ازبېک، هزاره، ترکمن، عرب او هر بل قوم په لوی ملي او اسلامي رنګ کې سره په ګډه مبارزه کوله، دا جګړه د کوم ځانګړي قوم او ولایت امتیاز نه دی، دا د ګرد افغان ګډه چاره وه.

جهادي تنظیمونو دا لوی ملت په خپلو تنظیمي اډانو کې د شوروي پر ضد تنظیمولو، د شوروي پر ضد جهاد او کیسې باید د همغه مهال په تاریخي منظر او ماحول کې تحلیل شي، هغه د ازادۍ جګړه وه، او د ازادۍ جګړې ته ملت په انارشېزم نه وو ننوتی، دې ملت دغه جګړه د همدې جهادي تنظیمونو په نظم کې تر سره کړ، جهادي تنظیمونو چې هغه مهال د ازادۍ جګړه څرنګه کوله او څرنګه یې شوروي ماتولو دا د هغه مهال اتلولۍ وې، لوی لوی جهادي قومندانان وو چې د ملت بچیان یې تر قوماندې لاندې له شوروي سره جنګېدل، او له شورویانو یې جګړه ګټله.

که ابل پرون د انګلیس پر ضد افغان جګړو خپل اتلان درلودل، نو پرون هم د شوروي پر ضد افغان جګړې خپل اتلان درلودل، که څوک له دې منکر وي، هغوی به یا له مسایلو سره عقده یي برخورد لري او یا به د نجیب د حکومت تر سقوط وروسته مرحلو کې د جهاد بسته تاریخ تحریفوي. دا کومه وړه پېښه نه وه چې ملت دې یې د مشرتابه او نظم په تشه کې تر سره کړي، دا یوه لویه جګړه وه چې ملت په انارشېزم نه ده ګټلې.

نگرشی بر تطبیق و نقض
قانون اساسی افغانستان

چهارده سال قبل از امروز قانون اساسی کنونی کشور از سوی لویه جرگهٔ تصویب قانون اساسی، به تصویب رسید و توسط حامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان، توشیح گردید. قانون اساسی، یکی از دست‌آوردهای مهم نظام کنونی پنداشته می‌شود و عالی‌ترین سند حقوقی در کشور است، ولی در طول چهارده سال گذشته همواره بحث‌هایی در مورد نقض و عدم تطبیق آن وجود داشته است. مقام‌های بلندرتبهٔ حکومت افغانستان نیز می‌پذیرند که قانون اساسی کشور به گونهٔ گسترده نقض شده است. سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان به مناسبت تجلیل از هفتهٔ قانون اساسی در پیامی گفته است که نقض قانون اساسی در افغانستان همگانی شده است.

یافته‌های یک تحقیق تازه نیز نشان می‌دهد که در چهارده سال گذشته از میان ۱۶۲ مادهٔ قانون اساسی، ۹۴ ماده آن نقض شده است.

اینکه قانون اساسی کشور در طول ۱۴ سال گذشته تا چه حدی تطبیق شده است؟ و مهم‌ترین عوامل نقض این قانون چیست؟ پرسش‌هایی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

قانون اساسی افغانستان

افغانستان، یکی از کشورهایی است که قانون اساسی متعددی در آن وضع و تصویب گردیده است. قانون اساسی کنونی، که در واقع محصول تعهد سیاستمداران افغان در موافقتنامهٔ بُن می‌باشد، هشتمین قانون اساسی کشور است.

اولین قانون اساسی افغانستان، تحت عنوان نظام‌نامهٔ اساسی دولت افغانستان در سال ۱۳۰۱ هـ ش در دوران سلطنت شاه امان الله خان، تدوین و در سال ۱۳۰۳ در ۷۳ ماده توسط یک لویه جرگه در کابل به تصویب رسید.

دومین قانون اساسی در سال ۱۳۰۹ هـ ش در زمان محمد نادر خان، سومین قانون اساسی در سال ۱۳۴۳ در دوران سلطنت محمد ظاهر شاه، چهارمین آن در سال ۱۳۵۵ در زمان جمهوریت محمد داوود خان، پنجمین آن در سال ۱۳۵۹ توسط حزب دیموکراتیک خلق افغانستان تحت عنوان اصول اساسی جمهوری دیموکراتیک افغانستان، ششمین و هفتمین آن در سال ۱۳٦٦ و ۱۳٦۹ در زمان حکومت داکتر نجیب الله که دوم آن قانون اساسی تعدیل شدهٔ سه سال پیش از آن بود و قانون اساسی کنونی که در سال ۱۳۸۲ در دورهٔ انتقالی حامد کرزی تدوین و به تصویب رسیده است.

قانون اساسی کنونی (قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان) پس از سقوط رژیم طالبان و روی‌کار آمدن نظام جدید در کشور، از ۲۲ قوس الی ۱۴ جدی سال ۱۳۸۲هـ ش پس از نهایی شدن از سوی کمیسیون تسوید، توسط لویه جرگه در ۱۲ فصل و ۱٦۲ ماده به تصویب رسید و در ٦ دلو همان سال از سوی حامد کرزی رئیس دولت انتقالی افغانستان توشیح گردید.

نقض قانون اساسی

قانون اساسی افغانستان که به عنوان میثاق ملی مردم افغانستان، تمام امور کشور را تنظیم و به نوعی زمینهٔ نظارت و حاکمیت مردم بر امور دولت را تنظیم می‌نماید، در ۱۴ سال گذشته به گونهٔ گسترده نقض شده است.

در کل، از نهادهای دولتی و خصوصی گرفته تا افراد عادی کشور در نقض قانون اساسی دست دارند. چنانچه معاون دوم رئیس جمهور هفتهٔ گذشته (۱٦ جدی ۱۳۹٦ هـ ش) به عنوان یکی از مقام‌های بلندرتبهٔ دولت، در پیامی از نقض همگانی قانون اساسی سخن زد

و نبود ظرفیت کافی برای تطبیق قانون را نیز یکی از عوامل آن خواند.

در تازه‌ترین گزارش تحقیقی مشترک اتحادیهٔ قانون‌دانان افغانستان و آژانس خبری پژواک که به تاریخ ۱۸ جدی ۱۳۹۶ هـ ش نشر گردید، گفته شده است که در ۱۴ سال گذشته ۹۴ مادهٔ قانون اساسی در افغانستان نقض شده است. بنا بر این تحقیق، بیشتر از نصف مواد این قانون (۵۸ درصد) در این مدت نقض شده و تنها میان ۳۸ مادهٔ فصل دوم قانون اساسی که در بارهٔ حقوق اتباع کشور است، ۳۲ مادهٔ آن نقض شده است. بربنیاد این تحقیق، رئیس جمهور و معاونین او نیز از جمله کسانی اند که در مورد صلاحیت‌های شان ۵ مادهٔ قانون اساسی را نقض کرده‌اند.

علاوه براین، در سال‌های گذشته نیز چندین گزارش تحقیقی در مورد نقض قانون اساسی کشور توسط حکومت و مردم، از سوی نهادهای غیردولتی به نشر رسیده و نشان می‌دهد که حکومت نه تنها در تطبیق این قانون ناکام بوده، بلکه خود حکومت نیز در نقض گستردهٔ قانون اساسی مقصر بوده است.

به عنوان مثال، در مادهٔ ۷۱ قانون اساسی افغانستان آمده است: «حکومت از وزراء تشکیل می‌گردد و تحت ریاست رئیس جمهور کار می‌کنند.» در حالیکه حکومت وحدت ملی با نقض قانون اساسی بنیان نهاده شد و در سطح بالا از نقض قانون اساسی حکایت می‌کند. با توجه به بگومگوهای اخیر در مورد تذکره‌های الکترونیکی نیز که به دلیل مخالفت با اطلاق کلمهٔ افغان به دارندهٔ این تذکره توزیع آن با مشکل روبه‌رو شده است، مادهٔ چهارم قانون اساسی صراحت دارد که «بر هر فردی از افراد ملت افغانستان، کلمهٔ «افغان» اطلاق می‌شود».

گرچند نقض بیش از نیمی ماده‌های قانون اساسی مبالغه‌آمیز به نظر می‌رسد، ولی مثال‌های زیادی از نقض قانون اساسی در زمان حکومت حامد کرزی و بعدا حکومت وحدت ملی وجود دارد که نقض برخی آن‌ها مشروعیت این نظام را بیش از پیش خدشه‌دار کرده است.

عدم رعایت زمان برگزاری انتخابات و برگزار نشدن انتخابات ولسی جرگه و شوراهای ولسوالی‌ها، تمدید دورهٔ کاری ولسی جرگه، ادامهٔ کار سرپرست‌ها در مقام‌های بلند حکومتی، ادامهٔ کار اعضای قوهٔ قضائیه بیش از مدت قانونی، محدود شدن ساحهٔ تطبیق قانون و عدم موجودیت ارگان‌های عدلی و قضایی در حدود نیمی از ولسوالی‌های افغانستان، تمدید دورهٔ کاری رئیس جمهور، سوء استفاده از صلاحیت‌های کاری، مشخص نشدن دارایی‌های مقام‌های حکومتی، مداخلهٔ اعضای شورای ملی در کارهای که صلاحیت ایشان نیست، برخورد نادرست با مجرمان و دها مورد دیگر را می‌توان به عنوان مثال‌های نقض مواد قانون اساسی از سوی دولت یاد کرد.

مهم‌ترین عوامل نقض قانون اساسی

عوامل گوناگون در نقض قانون اساسی کشور نقش دارد که به چند مورد مهم آن در اینجا اشاره شده است:

نخست؛ در سطح بالا، اختلافات داخلی و در کل تضاد منافع گروه‌ها و جریان‌های سیاسی در کشور باعث نقض قانون اساسی کشور شده است.

دوم؛ موجودیت فساد اداری گسترده و افراد زورمند در بدنهٔ نظام، عامل دیگر نقض قانون اساسی به شمار می‌رود که به سطح وسیع از تطبیق قانون جلوگیری می‌کند.

سوم؛ وضعیت خراب امنیتی کشور و نبود ثبات امنیتی از عوامل مهم دیگری است که زمینهٔ گسترده برای نقض قانون اساسی را فراهم کرده است.

چهارم؛ ضعف ارادهٔ سیاسی، ضعف نظارت و نبود یک میکانیزم پاسخگو عامل دیگر نقض قانون اساسی به شمار می‌رود. کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی از ضعیف‌ترین ارگان‌هایی است که نتوانسته است نقشی موثری در این مورد ایفا نماید. در حالیکه رئیس جمهور به عنوان پاسدار قانون اساسی خود مرتکب نقض قانون اساسی می‌گردد و قوهٔ قضایه نیز به نقض موارد متعدد قانون اساسی متهم است.

پنجم؛ موارد نقض قانون از سوی مردم عام، بیشتر به عامل پایین بودن سطح آگاهی مردم در زمینهٔ قانون برمی‌گردد.

نتیجه‌گیری

قانون اساسی کشور در حالی به طور گسترده از سوی دولت و مردم عام نقض شده که در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته پذیرش آن به عنوان پیش‌شرط و خط سرخ در گفتگوهای صلح مطرح بوده و یکی از موانع موفقیت در گفتگوهای صلح پنداشته می‌شود.

فرهنگ حاکم قانون‌گریزی، بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در افغانستان باعث شده که قانون اساسی کشور به سطح بالا و پایین از سوی مردم و هر سه قوهٔ دولت افغانستان به شکل گسترده نقض گردد.

بنابراین، در حالیکه از مقامات دولتی گرفته تا افراد عادی کشور و از نهادهای خصوصی گرفته تا نهادهای دولتی در نقض قانون دست دارند، ولی هیچ واکنشی جدی در برابر آن دیده نمی‌شود؛ در حال حاضر نیاز جدی به بالا بردن سطح آگاهی مردم نسبت به قوانین و تقویت ارگان نظارت از تطبیق قانون اساسی دیده می‌شود.

فقر او بې‌کاري

او د افغانانو اقتصادي کډوالي

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییز څېړنو مرکز

دوې اونۍ وړاندې نړیوال بانک په یوه تازه خپاره شوي راپور کې وویل، چې په افغانستان کې به د کاري فرصتونو د کمښت له کبله ډېر ځوانان د هېواد پربښودو او په نوره نړۍ کې د کډوالۍ ژوند ته زړه ښه کړي. د دغه راپور له مخې، په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي وضعیت له کبله په ۲۰۱۵م کال کې ۲،۲۵ میلیونه افغانان په نورو هېوادونو کې د اقتصادي کډوالو تر نامه لاندې ثبت شوي وو. راپور دغه راز کاږي، چې په افغانستان هر کال کابو ۴۰۰ زره کسان د کاروبار بازار ته ور زیاتېږي او دا هغه څه دي، چې د تېر په څېر به نورو هېوادونو ته د افغانانو د ناقانونه کډوالیو کچه لوړه کړي.

پر دې سربېره، څه باندې یوه میاشت وړاندې (د ۱۳۹۶ د مرغومي په ۵مه) د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض الله ذکي هم اندېښنه ښودلې وه، چې که افغان دولت او خصوصي سکتور د بې‌کارۍ بحران ته کډ تدابیر ونه‌نیسي، تر راتلونکو پنځو کلونو پورې به افغانستان ۴ میلیونه وزګار وګړي ولري.

ګاونډیو هېوادونو او نورې نړۍ ته د افغانانو پراخه کډوالي له تېرو څو لسیرو راهیسې هغه مهمه موضوع ده، چې تر ډېره په هېواد کې د جګړو او ناامنیو ترڅنګ، د کاري فرصتونو له کمښت او ناوړه اقتصادي وضعیت سره هم کلک تړاو لري.

دا چې په افغانستان کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ وضعیت څه ډول دی، په نورو هېوادونو کې د افغانستان اقتصادي کډوال په څه وضعیت کې دي او حکومت ته په دې برخه کې څه کول په‌کار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

په افغانستان کې بې‌کاري او بې‌وزلي

ناامني، بې‌ثباتي، اداري فساد، کمزورې حکومتولي، د نفوس زیاتوالی او له نورو هېوادونو څخه د افغان کډوالو بېرته راستنېدل هغه عوامل دي، چې له کبله یې په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ کچه خورا لوړه ده.

د پخواني شوروي اتحاد له یرغل راوروسته او بیا د کورنیو جګړو له امله په ټولیز ډول په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ کچه مخ په لوړېدو شوه، هغه مهال سلګونه زره افغانان کاونډیو هېوادونو ته کډوال شول او خپل کاروبارونه او پانګې یې له لاسه ورکړې.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، سره له دې چې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې د مرستو میلیاردونه ډالر راغلل؛ خو بیا هم په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ کچه لوړه پاتې شوه.

په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې په ټولیز ډول ۳۶،۳ سلنه افغانانو د بې‌وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند تېراوه. د نړیوال بانک او افغان دولت د یوه ګډ راپور له مخې، چې څو میاشتې وړاندې خپور شو، په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې دغه وضعیت د خرابېدو په لور روان و او په دغو کلونو کې د بې‌وزلۍ سلنه ۳۹.۱ ته لوړه شوې وه. په دغه ګډ راپور کې بې‌کاري، د جګړو تودېدل او د نړیوالو مرستو کمېدل د بې‌وزلۍ د کچې لوړېدو مهم لاملونه بلل شوي وو.

له ۲۰۱۴ کال وروسته که څه هم په دې برخه کې کومه دقیقه څېړنه نه ده خپره شوې؛ خو ګڼو لاملونو ته په کتلو سره دا وضعیت د خرابېدو په لور روان و. په دې موده کې جګړو زور اخیستی، بې‌کاري خپل اوج ته رسېدلې، نړیوالې مرستې د پخوا په پرتله کمې دي، له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان څخه سلګونه زره کډوال راستانه شوي او د کورنیو بې‌ځایه شوو کډوالو شمېر هم لوړ شوی دی. د دې ترڅنګ په دې موده کې سلګونه زره افغانان د اروپا په لوري تللي او دا ټول هغه څخه دي، چې په تېرو دریو کلونو کې د بې‌وزلۍ د کچې د لوړېدو ښکارندویي کوي.

پر دې سربېره بې‌کاري، چې د بې‌وزلۍ یو اصلي لامل ګڼل کېږي، ورځ تر بلې په زیاتېدو ده. د نړیوال بانک د راپور له مخې، په ۲۰۰۱م کال کې د افغانستان د ټولې کاري قوې ۴،۶ سلنه یې بې‌کاره وو. په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو کې دا کچه ۴،۹ سلنه وه؛ خو په ۲۰۰۵ کې بیا ۸،۵ سلنه ته لوړه شوه او تر هغه وروسته د بې‌کارۍ کچه ورځ تر بلې د لوړېدو په حال

کې وه. د دغه راپور له مخې، یوازې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴م کلونو کې نږدې دوه میلیونه افغانان وزګار وو.

اقتصادي کړوال

اقتصادي کډوال هغو کډوالو ته ویل کېږي، چې د کډوالۍ تر شا یې اقتصادي لاملونه ولري او د کاري فرصتونو د ترلاسه کولو په موخه خپل هېواد پرېږدي او نورو هېوادونو ته د پیسو ګټلو په موخه ځي.

په نړیواله کچه هغه هېوادونه، چې اقتصادي وده یې کمه وي او خپلو خلکو ته په هېواد کې دننه کاري فرصتونه نه شي برابرولی، هڅه کوي چې په نورو پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې، خپلو خلکو ته له قانوني لارو د کار کولو زمینې برابرې کړي.

اوسمهال ډېرى آسیایي هېوادونو د کارګرو د قانوني کډوالۍ په برخه کې د ځینو تګلارو له مخې، د نړۍ په نورو هېوادونو کې د خپلو کارګرو لپاره د کارموندنې او مسلکي مهارتونو د زده‌کړې زمینې برابرې کړې دي؛ خو افغان دولت په دې برخه کې پاموړ ګامونه نه دي اوچت کړي.

د افغان کډوالو ډېره برخه په دوو ګاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان کې ده، چې په ځانګړې توګه ایران ته تلونکي افغانان تر ډېره د کار په موخه له قاچاقي لارو ځي او له همدې کبله هلته د ناراجستر کډوالو شمېره هم تل زیاته ده. په بل اړخ کې د ۲۰۰۷ کال شمېرې ښیي، چې په صنعتي نړۍ کې هم تر ۱۰۰ زره زیات اقتصادي کډوال مېشت وو او دا شمېره له ۲۰۰۸ کال راوروسته د لوړېدو په حال کې وه؛ خو د ملي یووالي حکومت په دوره کې د تېرې یوې‌نیمې لسیزې په پرتله ډېره لوړه شوه.

د افغان اقتصادي کډوالو وضعیت

د نړیوال بانک د وروستي راپور د معلوماتو پر بنسټ، د شوروي اتحاد د یرغل او د کورنیو جګړو پر مهال له افغانستانه ۹۵ سلنه کډوالي، د جګړو او سیاسي کړکیچ له کبله ثبت شوې ده؛ خو له ۲۰۱۵ کال راهیسې په نورو هېوادونو کې ۵۰ سلنه افغان کډوال د اقتصادي کډوالو تر عنوان لاندې ثبت شوي دي.

د دغه راپور له مخې، په ۱۹۹۰ کال کې ۳۸۰۰۰۰ تنه افغان کډوال، چې د اقتصادي موخو لپاره یې خپل هېواد پرېښی و، ثبت شوي وو. په ۲۰۰۰ کال کې دا شمېره نږدې یو میلیون تنو ته رسېدلې او په ۲۰۱۵ کال کې بیا ۲،۲۵ میلیون تنو ته لوړه شوې ده. دا شمېره ښیي، چې په تېرو ۱۵ کلونو کې هر کال شاوخوا ۸۵۰۰۰ افغانان د اقتصادي موخو لپاره کډوال شوي دي.

افغانستان هغه هېواد دی، چې په بېلابېلو هېوادونو کې سلګونه زره اقتصادي کډوال لري او زیات شمېر یې په سختو او غیرمسلکي کارونو بوخت دي. دغه کډوال که څه هم د هېواد په اقتصادي وده کې مثبت رول لري او په افغانستان کې د خپلو کورنیو لګښتونه برابروي؛ خو په نورو هېوادونو کې له ګڼو ستونزو سره هم مخ دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

• په ټوله کې افغان دولت نورو هېوادونو ته د کارګرو او اقتصادي کډوالو د لېږد لپاره یو منظم سیستم نه لري او له همدې املې ډېرى افغانان په ناقانونه توګه له هېواده بهر د کار کولو لپاره تللي او ځي.

• له ناقانونه لارو تلونکي کډوال که له یوې خوا د تګ پر مهال د مرګ له ګواښ سره مخامخ وي، له بلې خوا په نورو هېوادونو کې هم ډېرى وختونه ځورول کېږي، له محکمو پرته زندانونه تېروي او ان په کوچنیو جرمونو اعدامېږي.

• د ځینو هېوادونو له لوري له افغان کارګرو څخه د پیسو او نورو امتیازاتو په مقابل کې د جګړو په لیکو کې ګډه اخیستل کېږي.

• په افغاني پاسپورټونو، کارګرو ته د وېزو نه ورکولو ستونزه، چې تر ډېره له عربي هېوادونو سره ده، لاهم شته ده. په دې برخه کې د ببلګې په توګه سعودي عربستان د افغانستان له اجرائیه رئیس سره ریاض ته د نوموړي د سفر پر مهال ژمنه وکړه، چې افغان کارګرو ته به افغاني پاسپورتونه توزیع شي؛ خو دا ستونزه لا هم حل شوې نه ده.

• دغه راز په نورو هېوادونو کې زیاتره افغانان په سختو کارونو کې بوخت دي او د کارګرو له قانوني او نړیوالو حقونو څخه برخمن نه دي.

افغان دولت څه کولی شي؟

په افغانستان کې د جګړو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله کمه اقتصادي وده، د نفوس زیاتوالی او له نورو هېوادونو د کډوالو بېرته راستنېدو ته په کتلو سره ښکاري، چې د بې‌کارۍ کچه به نوره هم لوړه شي.

نورو هېوادونو ته د اقتصادي موخو لپاره د افغانانو کډوالي یوه له هغو لارو چارو ده، چې په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ په راتیټولو کې اغېزناک رول لري. افغانستان یو له هغو هېوادونو دی، چې اوسمهال یې د ۱۶ سلنه کورنیو اقتصادي وضعیت د همدغو کډوالیو له کبله په نسبتا ښه حالت کې دی؛ خو دا چاره د دولت ځینو اقداماتو ته اړتیا لري، چې یو شمېر یې په لاندې ډول دي:

لومړی؛ افغان حکومت د نړۍ په ښه اقتصاد لرونکو هېوادونو کې، خپلو خلکو ته د کاري فرصتونو د موندلو په موخه د بازارونو څېړنه او ارزونه وکړي.

دویم؛ له ښه بازار لرونکو هېوادونو سره د افغان کارګرو لپاره د کاري فرصتونو په موخه هوکړه‌لیکونه لاسلیک شي او افغانانو ته زمینه برابره شي، چې له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار کولو لپاره ولاړ شي.

دریم؛ د اقتصادي کډوالۍ د مدیریت لپاره یو منسجم او اغېزناک سیستم رامنځه شي، ترڅو دا چاره په منظمه او بنسټیزه توګه د خلکو په اقتصادي وضعیت کې ښه‌والی راولي او په هېواد کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ د کچې په راتیټولو کې لا ډېر اغېزناک پرېوځي.

habibi@eslahonline.net

گلگشتهای ادبی

مگر بیشتر از یکبار فرصت زندگی کردن داریم؟

مگر چگونه زندگی می‌کنیم وقتی کسی میمیرد
میگوییم راحت شد !!
خانه های بزرگ اما خانواده های کوچک داریم ،
مدرک تحصیلی بالا اما درک پایینی داریم،
بی هیچ ملاحظه ای ایام میگذرانیم اما دلمان عمر نوح میخواهد!!
کم میخندیم و زود عصبانی میشویم،
کم مطالعه میکنیم اما همه چیز را میدانیم!
زیاد دروغ می‌گوییم اما همه از دروغ متنفریم،
زندگی ساختن را یاد گرفته ایم،
اما زندگی کردن را نه!
ساختمان‌های بلند داریم اما طبعمان کوتاه است
بیشتر خرج میکنیم اما کمتر داریم،
بیشتر میخریم اما کمتر لذت میبریم،
فضای بیرون را فتح کرده ایم اما فضای درون را نه
بیشتر برنامه میریزیم اما کمتر عمل می‌کنیم،
عجله کردن را آموخته ایم
ونه صبر کردن را...!
مگر بیشتر از یکبار فرصت
زندگی کردن داریم...؟!
زندگی عطیه‌ی الهی است، از آن لذت ببر و مردم را از شر دست و زبانت در آمان کن!

علامه محمد اقبال لاهوری

ترا اندر بیابانی مقام است

که شامش چون سحر آئینه فام است

بهرجائی که خواهی خیمه گستر

طناب از دیگران جستن حرام است

جنت ډېر نږدې دی!

کله چې د خرما نیمه برخه مو د جهنم له اور څخه ساتي،
او د صدقې ورکول، دالله جل جلاله د قهر او غوصې د خاموشۍ سبب ګرځي،
او دوې کلیمې زمونږ د نیکو اعمالو پله درندوي:
[سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظیم]
او دیوې ورځې روژه مو، د اویا کلونو په اندازه له جهنم څخه لرې کوي،
او اودس کول د بدن د اعضاوو د ګناهونو د محوې سبب ګرځي،
او ثواب لس برابره حسابیږي،
او ګناه د خالصې توبې په واسطه بخښل کیږي.
نو بیا ولې ځینې فکر کوي چې جنت ډیر لرې دی؟
ژباړه: محمد جاوید صافی

غوره افکار، ښه ژوند!

په ښایسته افکارو مو ژوند ته بدلون ورکړئ:
* تل شاکر اوسه او د نورو احترام کوئ،
* د تیر وخت په اړه له حده زیات فکر مه کوئ، چې باید په هغه وخت کې مې دا کار سرته رسولی ؤ، یا مې نه ؤ رسولی، بلکې له دم ګړی څخه مه غافله کېږه او ګټه ترې واخله،
* تاسې نه پوهیږئ چې اینده کې به څه درته پیښیږي نو له حاضر وخت څخه ګټه پورته کړئ،
* صبر کول د انتظار کولو په معنی نه دي، بلکې پدې معنا چې خپلو موخو ته د رسیدلو لپاره هر ډول مشکلات وزغمې، بار، بار ناکام شې خو حوصله له لاسه ورنکړې.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

معلومات

غوره صدقه!

لـه ابـو هریـرة رضي الله عنـه نه روایـت دی، چې رسـول الله علیه افضل الصلاة والسـلام وفرمایل:

یـوه سړي دا اراده وکړه چـې نـن شـپه بـه زه صدقـه ورکـوم. هغـه د خپلـې صدقـې د ور کولـو پـه خاطـر ووتـه. هغه(پـه ناپوهي کې) خپلـه صدقـه یـوه غـل تـه پـه لاس کـې کښـوده. خلکـو داسـې خـبرې کولـې چـې غـل تـه یـې صدقـه ورکړه.

صدقـه ورکوونـکي وویـل: ای زمـا ربـه! یـوازې تـه د ثنـا او صفـت لایـق یـې. زه بـه (نـن) بیـا صدقه ورکـوم. هغـه د خپلـې صدقې په خاطـر ووتـه او خپلـه صدقـه یـې(په نـا خبری کـې) یوې بـد کارې (زنـاکارې) ښځې تـه ورکړه.

خلکـو داسـې خـبرې کولـې چـې زنـا کارې تـه یـې صدقـه ورکـړه.

صدقـه کوونـکي وویـل: ای زمـا ربـه! یوازې تـه د ثنـا او صفت لایق یـې. زه بـه نـن بیـا صدقه ورکـوم. هغـه د خپلـې صدقـې د د ورکولو پـه خاطـر ووتـه او خپلـه صدقـه یـې (پـه نـا پوهي کـې) یـو مالداره تـه ورکړه.

خلکـو خـبرې کولـې چـې نـن یـې صدقـه یـو مالـداره تـه ورکـړه.

صدقـه کوونـکي وویـل: ای زمـا ربـه! د ثنـا او صفت لایق یـوازې ته یـې. یاالله سـتا شـکر دی چې زمـا صدقه مالـدار، غلـه او زناکارې پـه لاس ورغلـه.

هغـه سړي تـه یـو کـس (پـه خـوب کـې) راغـی او ورتـه یـې وویـل: سـتا صدقـه قبولـه شـوه. تـا چـې هغـه بـد کارې ښځې تـه کومه صدقـه ورکړې وه کښدای شي هغـې سـتا پـه دغـه صدقـه د بـد کارې څخـه ځـان سـاتلی وي. تـا چې غل تـه کومه صدقـه ورکړې وه کښدای شي د هغـه لـه املـه هغـه غـلا پریښـي وي او تـا چـې مالـداره تـه کومـه صدقـه ورکړه کښدای شي هغه ووایـي چې خلک صدقـه ورکـوي زه یـې ولـې ور نـه کـړم او هغه څـه چې الله ورکړي پـه هغـې کـې صدقـه ورکړي. (رواه البخـاري)

مُسکی

د رب کور کې چې ناست، تر لمر خاته یمه مُسکی
را ووتی هغه ورځ بیا له کاله یمه مُسکی
له مابه هغه ورځ وي، کوم بدبخته په دنیا؟
چې مور ته مخامخ شمه، او نه یمه مُسکی
د زړه دنیا مې موړې ، راته شنه شي له خندا
چې ته مې په تندي ښکل کړي، او زه یمه مُسکی
پرهر،پرهر سینه او بل ارمان مې، ربه دا چې
وروستی د شهادت سلګی په خوله یمه مسکی
له اوښکو، له سلګیو، له دردونو سره بیا هم
الهام دچا د زیري په راتله یمه مسکی
غمونو ته دي وایه ، زړه دې نه راباندې سیزي
هر درد، او هر پرهر ته دې له زړه یمه مسکی
د ښار د محلونو یاره ! مه راپورې خانده
کوچی پرون راغلی چې له غره یمه مسکی
له ډانګ،شپېلی، مچنغوزي او رمې سره ستومانه
کوچی مانښام راغلی، له راغه یمه مُسکی

داد از دعاهای بی جواب!

از أم‌المؤمنین عایشه (رضی‌الله عنها) روایت است که: رسول الله صلی الله علیه وسلم به خانه‌ام درآمد. از سیمایش دانستم چیزی بر او حضر نموده است. وضو گرفت و بی‌آنکه با کسی سخن بگوید، بر منبر رفت. به دیوار حجره گوش چسباندم تا بشنوم که چه می‌گوید. خدا را سپاس گفت و آنگاه فرمود: ای مردم! خداوند به شما می‌گوید: پیش از آنکه دعا کنید و اجابت نکنم؛ و بخواهید و چیزی نبخشم و طلب یاری کنید و یاری‌تان نرسانم، امر به معروف و نهی از منکر کنید.

بیش از این دیگر سخن نگفت و از منبر فرود آمد.

الترغیب و الترهیب؛ ج۴؛ ص۱۲

خودخواهی امریکائیان

ترجمه: عبدالخالق احسان

زندگی امریکائیان در زمانه معاصر عجیب و حیرت آور است، آنان هر کسی را که به روش کار و تجاوزگری های شان موافق نباشد، برچسب تروریست بودن می زنند و به فکر نابودی اش می شوند. جنگ شان در افغانستان هنوز شعله¬ور است، ملت افغان را به مشکلات گوناگونی دچار ساخته اند، زندان گوانتانامو به بهانه مبارزه با تروریسم هنوز به خاطر شکنجه و تعذیب باز است، و در عراق، دولت از بین رفته و ارتش آن متلاشی گردیده و از مشکلات زیادی مثل: طایفه گری و نژادپرستی رنج می برد. کُرد های شمال سوریه را با اعطای سلاح حمایت می کند تا سوریه را تجزیه نمایند، و از طرف دیگر کوریا را تهدید می کند که آن را از نقشه جهان محو می سازد.

از امور خیلی عجیب و حیرت آور، قرار دادن استاد اسماعیل هنیه در لست تروریستان می باشد؛ چون ایشان از قبول قدس به حیث پایتخت صهیونیست ها ابا ورزیده و بر دفاع از سرزمینش و آزادی آن و مقاومت در مقابل تجاوز و استعمارگری صهیونیست ها و امریکایی ها در کشورش، مقاومت نموده است.

جامعه جهانی در قرن گذشته حرکت های آزادی خواهانه ی را به رسمیت شناخت که به خاطر دفاع از سرزمین شان و آزادی آن از چنگال استعمارگران تأسیس گردیده بودند؛ اما در قرن حاضر حقایق وارونه گردیده و اصول اخلاقی و سیاسی بر عکس شدند، لذا می بینیم کسی که از خویشتن و سرزمینش دفاع کند، تروریست محسوب گردیده و محاصره شده و علیه آن جنگ و پیکار راه اندازی می گردد و ستمگرانه و دشمنانه در لست تروریستان درج می شود.

